لوړو زده کړو وزارت

تابش پوهنتـــــون

علمي چارو معاونیت

# د بریښنایي زده کړو سیستم د مدیریت او څارنې طرزالعمل

کال:۱۴۰۴


بسم الله الرحمن الرحيم

**سریزه**

تابش پوهنتون د خپل لرلید، ماموریت او ستراتیژیک پلان په اساس د بریښنایي زده کړو د ترویج او پراختیا خپل اساسي رسالت بولي او همدې موخو ته د رسېدو په موخه يې د بریښنایي زده کړو سیستم چې د لوړو زده وزارت او د تضمین کیفیت د معیارونو غوښتنه هم ده فعاله کړی او عملا د استفادې وړ دی.

تابش پوهنتون د ټکنالوژیکه ساحه کې د پرمختګ او توسعې کلک هوډ لري، په همدې موخه د علمي کادر غړو، اداري، تخنیکي کارکوونکو او محصلینو د ظرفیت لوړونې برخې ته خاصه توجه کوي، چې له امله يې د بریښنایي زده کړو د انکشاف لپاره تر دې دمه ګڼې د ظرفیت لوړونې برنامې په لاره اچولي دي او لا ورته ادامه ورکوي.

دا طرزالعمل (د بریښنایي زده کړو سیستم څخه د مدیریت او څارنې طرزالعمل) د لوړو زده وزارت د تضمین کیفیت ریاست د نوي چکلیست د (۵) اصلي معیار، (٦) فرعي معیار، (۳) شاخص او (۱۴۷) ګڼه سند د غوښتنې په اساس په (۳) فصلونو او () کې جوړ شوی او د پوهنتون د علمي ( ) ګڼه / /۱۴۰۵ نېټه پروتوکول کې ثبت او تائید دی.

## لومړی فصل

## عمومیات

### لومړۍ ماده: مبنی

دا طرزالعمل د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت د نافذه قوانینو، د کیفیت لوړونې د نوي چکلیست د (۵) اصلي معیار، (٦) فرعي معیار، (۳) شاخص او (۱۴۷) ګڼه سند د غوښتنې په اساس ، د معلوماتي ټکنالوژۍ نړیوالو معیارونو، او د تابش پوهنتون د علمي او اداري جوړښت پر بنسټ ترتیب شوی دی. دا سند د بریښنایي زده کړو د تنظیم، مدیریت، څارنې او کیفیت تضمین لپاره رسمي چوکاټ ټاکي.

### دویمه ماده: د تطبیق ساحه

دا طرز العمل په تابش پوهنتون کې د بریښنایي زده کړو سیستم پورې د ټولو اړوندو چارو او ټول علمي، اداري او تخنیکي پرسونل او محصلینو باندې د تطبیق وړ دی.

### دریمه ماده: موخې

د دې طرزالعمل موخې عبارت دي:

1. د تابش پوهنتون د بریښنایي زده کړو سیستم مدیریت کول؛
2. د تابش پوهنتون د بریښنایي زده کړو سیستم څخه څارنه کول؛
3. د بریښنایي او آنلاین سیستمونو مؤثر او اغېزمن استعمال؛
4. په پوهنتون کې د بریښنایي زده کړو ترویج او پراختیا؛
5. بریښنایي زده کړو په برخه کې د علمي کادر غړو، اداري کارمندانو او محصلانو ظرفیت لوړونه؛
6. د غیر حضوري سرچینو او منابعو په اړه عامه پوهاوی؛

### څلورمه ماده: اصطلاحات

په دې طرزالعمل کې کارول شوي اصطلاحات لاندې معناوې افاده کوي.:

- LMS: د زده کړو مدیریت برېښنايي سیستم چې د کورسونو، محصلانو او استادانو مدیریت پکې ترسره کېږي .
- E-Learning: هغه زده کړې چې د انټرنیټ او برېښنايي وسایلو له لارې ترسره کېږي .
- Administrator: د سیستم تخنیکي او اداري مسؤل .
- Instructor: استاد چې درسي مواد وړاندې کوي .
- Student: محصل چې له سیستم څخه زده کړه ترلاسه کوي .
- Content: ټول درسي مواد لکه ویډیو، PDF، سلایډونه او نور .

## دوهم فصل

## د برېښنايي زده کړو سیستم مدیریت

### پنځمه ماده: د مدیریت مرجع

د علمي چارو معاونیت د برېښنایي زده کړو د ټول سیستم عالي همغږي کوونکی مرجع ده. د معلوماتي ټکنالوژۍ آمریت سره په ګډه همکارۍ د برېښنایي زده کړو سیستم مدیریت کوي.

### شپږمه ماده: مالي او اداري چارو معاونیت

د مالي او اداري چارو معاونیت د برېښنایي زده کړو د ټولو وسایلو او امکاناتو د تهیه او تدارک مسؤلیت په غاړه لري او ټول وسایل په خپل وخت اماده کوي.

### اومه ماده: د محصلانو چارو معاونیت

د محصلانو چارو معاونیت د ټولو محصلانو ثبت، تنظیم او د هغوی حسابونه په LMS کې فعالوي. د محصلانو فعالیت څاري، د هغوی د حضور راپورونه جوړوي او د زده کړو د پرمختګ تحلیل برابروي.

همدا شان د هغو محصلانو معلومات ثبتوي چې خپلې زده کړې بشپړوي. دا مدیریت د فراغت اسناد برابروي، د آنلاین زده کړو پایلې ثبتوي او د فارغانو د معلوماتو آرشیف ساتي.

د دې تر څنګ د محصلانو او فارغانو لپاره د مهارتونو د لوړولو، د کارموندنې فرصتونو برابرولو او د مسلکي مشورې ورکولو مسؤلیت لري. د آنلاین ورکشاپونو تنظیم، د Career Guidance پروګرامونه او د Job Portalمدیریت هم د دې برخې مسؤلیت دی.

### اتمه ماده: د معلوماتي ټکنالوژۍ آمریت

د معلوماتي ټکنالوژۍ آمریت د برېښنایي زده کړو د تخنیکي بنسټ مسؤلیت لري. دا آمریت LMS سیستم نصبوي، تنظیموي او پرلهپسې یې ساتنه کوي. د کاروونکو حسابونه جوړوي، د امنیتي تدابیرو پلي کول یقیني کوي، د سیستم Backup اخلي، تخنیکي ستونزې حل کوي، د سرور فعالیت څاري او د راپورونو تخنیکي تحلیل برابروي.

ITآمریت د LMS ټول تخنیکي عملیات پر مخ وړي، پکې User Management، Course Management، Security، Updates، Logsاو Backup شامل دي.

### نهمه ماده: د ویډیو درسونو معیارونه

ټولې ویډیوګانې باید د لوړ کیفیت (HD) وي، واضح غږ ولري، د استاد نوم او د مضمون عنوان ولري، د پوهنتون لوګو پکې شامل وي او د هر درس موده باید ۱۵ تر ۳۰ دقیقو وي.

## دریم فصل

## د برېښنايي زده کړو مدیریت سیستم څارنه

### لسمه ماده: د څارنې کمېټه

د علمي چارو معاونیت، د محصلانو چارو معاونیت، مالي او اداري چارو معاونیت او د کیفیت لوړونې آمر په شمول کمېټه  د برېښنايي زده کړو ټول فعالیتونه څخه څارنه او نظارت کوي، د استادانو او محصلانو فعالیت څاري، د LMS کیفیت تحلیلوي او د تدریس معیارونه تضمینوي.

### یوولسمه ماده: د څارنې راپورونه

د برېښنايي زده کړو سیتسم څخه په هره ربعه کې نظارت تر سره کېږي او راپور د پوهنتون رئیس او علمي شورا ته وړاندې کېږي.

### دولسمه ماده: راپور وړاندې کوونکی

د برېښنايي زده کړو د څارنې ربعوار راپور د علمي چارو مرستیال لخوا جوړ او د پوهنتون رئیس او علمي شورا کې ارایه کېږي.

## څلورم فصل

## د برېښنايي زده کړو سیستم خوندي توب

### دیارلسمه ماده: امنیتي تدابیر

سیستم د قوي پاسورډ پالیسی، Role-Based Access، Backup، Firewall، SSLاو Audit Logs له لارې خوندي کېږي ترڅو د معلوماتو امنیت تضمین شي.

### څوارلسمه ماده: لاس رسی

د برېښنايي زده کړو سیستم ته یوازې د تا بش پوهنتون علمي، اداري او تخنیکي پرسونل او محصیلین د دې پالیسۍ د اصولو په اساس تعریف شوی لاس رسی لري.

### پنځلسمه ماده: د معلوماتي ټکنالوژۍ آمریت مسؤلیت

د معلوماتي ټکنالوژي آمریت مسؤلیت لري چې د برېښنايي زده کړو سیستم د خوندي لپاره په وخت ټول اړین گامونه پورته کړي او په منظم شکل د سیتسم له خوندیتوب څخه اطمینان حاصل کړي او د ستونزې په صورت عاجل اقدام وکړي.

## پنځم فصل

## انضباطي احکام

**شپاړلسمه ماده: سرغړونې**

هر ډول ناوړه استعمال لکه د حساب شریکول، د امتحان درغلی، د سیستم تخریب او غیرمجاز لاسرسی سرغړونه ګڼل کېږي.

**اولسمه ماده: جزاګانې**

د دې پالیسی له مقرراتو څخه سرغړوونکي به د نظم او دسپلین کمېټې ته ورپېژندل کېږي او د یادې کمېټې د طرزالعمل په اساس به ورته تادیبي او تنبیهي مجازات ورکول کېږي.

## شپږم فصل

## د طرزالعمل تائید، انفاذ او تعدیل

**اتلسمه ماده: تائیدي**

دا طرزالعمل په یوه سریزه، شپږ فصلونو او ۲۰ مادو کې ترتیب او د پوهنتون علمي شورا ( ۱۶ ) ګڼه۲۶ / ۱۲ /۱۴۰۴ پروتوکول کې ثبت او تائید دی.

**نولسمه ماده: نافذېدل**

دا طرزالعمل د پوهنتون علمي شورا کې تر تائید وروسته نافذ ګڼل کېږي او د پوهنتون ټول اړخونه یې په رعایت او ورته په پاملرنې مکلف ګڼل کېږي.

**شلمه ماده: تعدیل**

دا طرزالعمل د اړتیا په صورت کې د علمي چارو معاونیت او معلوماتي ټکنالوژی آمریت په وړاندیز پوهنتون علمي شورا لخوا تعدیل کېږي